# د تاريخ مرصع چاپي متون، تنقيدي مطالعه

## (د متن څېړنې د مروجه اصولو په رڼا کښې)

# A CRITICAL STUDY OF PRINTED TEXTS OF TAREEKH-E-MURASSA

## (In the light of established principles of textual criticsm)

Dr Abdullah Jan Abid*

**Abstract:**

The *Tareekh-e-Murassa* is an ancient text of Pashto that was authored by Afzal Khan Khattak (1075 H to 1183 H), the grandson of Khushal Khan Khatak. It is the first voluminous book written in the domain of history in Pashto which carries information regarding political and social situations of that era. Furthermore, this book not only elucidates the conditions of prophets and saints but also tells history of Pakhtun nation, history of Khattak tribe and history of Mughals. With reference to literature, it has paramount importance. It is considered one of the best prosaic representations of that period. This text has been edited by well-known Pashto's researcher, Dost Muhammad khan Kamil Momand. Till now, its two editions have been published. In this paper, both the editions of this ancient text have critically been studied in the light of prevalent principles of textual criticism. This work would be fruitful for the future research scholars and editors of Pashto.

**Key Words:** Afzal khan, Dust Muhammad khan kamil, tareekh-e-murassa, textual critism, Ancient text Pashtun Hitory

تاريخ مرصع د افضل خان خټک تاريخي تاليف دے، چې هغوي د ۱۱۲۳ – ۱۱۳۶ھ کلونو تر مېنځه مکمل کړے دے. دغه تاريخي متن يوه مقدمه، درې بابونه او اووۀ دفتره لري. دغه مهم متن د محترم دوست محمد خان کامل په تدوين د يونيورسټي بک ايجنسي پېښور له خوا په ۱۹۹۴ء کښې چاپ شوے او خور شوے دے- دا متن د شپږو نسخو له مخې تهيه

* Associat Professor/Chairman Department of Pakistani Languages, AIOU, Islamabad.

شوے دے، چې تفصیل ئې د تاریخِ مرصع په کتابیاتو کښې بیان شوے دے- د دې تدوین شوي متن مندرجات په دې ترتیب دي: (۱) مقدمه، **۵۳**مخه ( د **۵** نه تر **۵۷** مخه پورې )، (۲) کتابیات ۱۵ مخه (د **۵۸** نه تر ۷۲ مخه پورې ) (۳) فهرست، ۴ مخه ( د ع ج نه تر ع و مخه پورې ) (۴) متن ۲۲۲ مخ (د ۳ نه تر ۲۲۴ مخه پورې )(**۵**) نوټونه، **۲۸۹** مخه (د **۲۲۷** نه تر **۱۳۱۵** مخه پورې ) (۶) څو نور نوټونه ۱۷ مخه ( د ۱۳۱۶ نه تر ۱۳۳۲ مخه پورې )، (**۷**) هم د تېر عنوان په لړ کښې، ۱۲ مخه ( د ۱۳۳۳ نه تر ۱۳۴۴ مخه پورې ) (۸) ضمیمه ۱- د برخو مېرمنې پښتنې بیبانې **۵** مخه (د ۱۳۴۴ نه تر ۱۳۴۸ مخه پورې)، (۹) ضمیمه ۲: د خواجه نعمت الله د همکار هیبت خان کاکړ د کورنۍ حال او نسب نامه، **۵** مخه ( د **۱۳۴۹** نه تر **۱۳۵۵** مخه پورې )، (۱۰) ضمیمه ۳، د کتاب تاریخِ خان جهاني مخزن افغاني و پاے ته د رسېدو تاریخي قطعه او د جهانګیر باچا او د نواب خان جهان مدح، حمد او سلام، ۲ مخه ( **۱۳۵۵** او ۱۳۵۶ مخونه) (۱۱) ضمیمه ۴- د کتاب ځینې ناقص او مشتبه ځایونه، ۱۹ مخه ( د **۱۳۵۷** تر **۱۳۷۵** مخه پورې ) (۱۲) ضمیمه **۵**: د څنو لغاتو تشریح، **۵** مخه ( د **۱۳۷۲** مخ نه تر ۱۳۸۰ مخه پورې ) انډیکسونه، ۸۰ مخه ( د ۱۳۸۱ مخ نه تر ۱۴۲۰ مخه پورې ) (**۱۴**) د غلطیو درستي، **۳۴** مخه ( د ۱۴۲۱ نه تر ۱۴۹۴ مخه پورې)

تاریخ مرصع د دوېم چاپ له پاره د نوي سره کمپوز کړے شوے دے او په ۲۰۰۲ء کښې هم یونیورسټي بک ایجنسي دوباره نشر کړے دے، چې د مندرجاتو د صفحو نومرې ئې د اول چاپ مطابق نه دي، ځکه نو تفصیل ښوؤل به ئې لازم وي: (۱) مقدمه **۴۹** مخه ( د **۵** نه تر **۵۳** مخه پورې ) (۲) کتابیات ۱۳ مخه (د **۵۴** نه تر **۶۶** مخه پورې )، (۳) فهرست ۳ مخه ( د ۶۷ نه تر **۶۹** مخه پورې ) (۴) متن **۵۷۳** مخه ( د ۷۰ نه تر **۲۴۲** مخه پورې ) (**۵**) نوټونه **۵۸۲** مخه (د **۲۴۳** نه تر **۱۲۲۴** مخه پورې ) (۶) څو نور نوټونه **۱۴** مخه (د **۱۲۲۵** نه تر **۱۲۳۸** مخه پورې ) (**۷**) د تېر عنوان په لړ کښې ۹ مخه ( د **۱۲۳۸** نه تر **۱۲۴۶** مخه پورې ) (۸) ضمیمه ۱: د برخو مېرمنې پښتنې بیبانې ۴ مخه ( د **۱۲۴۷** نه تر **۱۲۵۰** مخه پورې )، (۹) ضمیمه ۲: د خواجه نعمت الله د همکار هیبت خان کاکړ د کورنۍ حال او نسب **۵** مخه ( د **۱۲۵۰** نه تر **۱۲۵۴** مخه پورې ) (۱۰) ضمیمه ۳: د تاریخِ خان جهاني مخزن افغاني و پاے ته د رسېدو تاریخي قطعه او د جهانګیر باچا او د نواب خان جهان مد ح - حمد او سلام ۲ مخه ( **۱۲۵۴** او **۱۲۵۵** مخونه )، (۱۱) ضمیمه ۴: د کتاب ځنې ناقص او مشتبه ځایونه، ۲۱مخه (د **۱۲۵۵** نه تر **۱۲۷۵** مخه پورې ) (۱۲) ضمیمه **۵**: د څنو لغاتو تشریح **۵** مخه ( د ۱۲۷۲ نه تر ۱۲۷۶

مخه پورې)(۱۳) انډېکسونه، ۲۲ مخه (د ۱۲۷۷ نه تر ۱۳۴۲ مخه پورې)- مخکښې د دې نه، چې د تاریخ مرصع د دې دوېم چاپ ګډوډۍ او بې احتیاطۍ په ګوته کړے شي، لازم ګڼو چې د وړومبي چاپ متن، تدویني ښېګڼو باندې رڼا واچولے شي:

لکه څه رنګه چې مونږ په دې بنیادي نکته پوهه یو چې د تدوین اساسي مقصد او مدعا داوي، چې متن دې سره د ضروري وضاحتونو د مصنف د منشا(۱) مطابق وړاندې کړے شي، د متن څېړنې د روشونو سره سمه مقدمه، حاشيې: نوټونه او تعلیقات دې پرې ولیکلے شي او فرهنګ او اشاريې ورته مرتب کړے شي- اوس چې مونږ په دغه تناظر کښې د تاریخِ مرصع دا تدوین شوے متن څېرو، نو د متن څېړنې دغه ټول روشونه په کښې رعایت شوي دي- لوړه علمي، تاریخي او ادبي مقدمه پرې لیکلې شوې ده- حاشيې او مفصل نوټونه پرې لیکلي شوي دي- په دغو نوټونو کښې د متن د نسخو اختلافي قرأتونه هم ښودلې شوي دي او د متن نور متعلقه تفصیلات په کښې هم بیان شوي دي- په نوټونو کښې د اکثرو ګرانو لغتونو او ترکیبونو معنې هم ورکړے شوي دي، خو کوم چې پاتې ؤ، ضمیمه ۵ کښې د هغو تشریحات ورکړې شوي دي- دغسې د شخصي او جغرافیائي نومونو له پاره جدا جدا اشارئې مرتب کړې شوي دي، چې په متن او نوټونو کښې ئې د دغو نومونو تلاش آسان کړے دے- د تاریخ مرصع مدون چې څومره د تدوین اصول تر نظر لاندې ساتلي دي، د هغو مثالونه دپښتو متن څېړنې په روایت کښې که نایابه نۀ دي، نو کم یابه ضرور دي-

د تاریخِ مرصع د مدون داکار او زیار چې څومره وستائيلے شي، کم به وي ځکه چې یواځې په نوټونو کښې ئې د ۱۷۸ نه زیاتو عربي، پښتو، ترکي، فارسي اردو او انګریزي منابعو نه استفاده کړې ده، چې پښتو فارسي خطي نسخې په کښې هم شاملې دي- د تاریخِ مرصع په دغو نوټونو کښې، چې میا سید تقویم الحق کاکا خېل ورته "یو ځانله دائره المعارف وائي"، د امکان تر حده د متن د ټولو تاریخي، علمي او ادبي متعلقاتو په باب تفصیلات راغلي دي - د طباعت نه پس د پښتو ژبې او ادب ځېنې لوړو عالمانو په دې متن نقدونه کړې دي، چې په کښې د محترم عبدالرؤف بینوا او محترم پوهاند صدیق الله رشتین نامې د زیات اهمیت وړ دي- د دغو نقدونو په باب وروستو مدون خپل توضیحات په ۱۲۳۰ء (۲) نومې کتاب کښې وړاندې کړي دي، چې اوس دغه دواړه (نقدونه او توضیحات) زمونږ د ادبي تاریخ

د قدر وړ برخه ده، خو په تاریخِ مرصع د نورو نقدونو په پرته د پوهاند رښتین دې نقد سره د تدوین د اصولو له مخې اتفاق کېدے شي چې:

"پکار دا وه چه ښاغلي کامل د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان د شخصیت ادبي قدرت، پښتنې مینې، محبت او سیاسي هلوځلو په باب په جلا توګه یو یاداشت لیکلے وے او په دې توګه ئې د دۀ دغه لوړ خدمت نمانځلے وے- د مؤلف د کتاب د چاپونو په وخت کښې د هغه پوره پېژندګلو هم یوه ضروري خبره او رواجي دود دے۔"(۳)

اوس که هر څو په دې تدوین شوي متن کښې ځاے په ځاے د افضل خان د شخصیت، کردار او نورو هلوځلو ذکر راغلے دے او مدون ئې بیا په ۱۲۳۰ ء کښې وضاحت هم کړے دے- خوکه په مقدمه کښې د افضل خان د ژوند، شخصیت او هلو ځلو په باب ټول معلومات یو ځاے په مربوط او مبسوط شکل راغلے وے، نو د تدوین د هغه روش دا غوښتنه به په صحیح معنو کښې پوره شوے وے، چې د تدوین د مقدمې یوه برخه د مصنف یا مؤلف حالاتو ته وقف کول پکار وي- که داسې شوے وے نو بیا د مقدمې د تاریخِ مرصع په نورو برخو کښې که د افضل خان خټک د ژوند یا شخصیت متعلقه حوالو ته ضرورت پېښېدو نو هلته به یواځې په cross referencing باندې اکتفا کولے شوه-

په تاریخ مرصع کښې چې کومه بله نکته د تحقیق او تدوین د اصولو او موازینو له مخې د تأمل وړ ده، هغه د کتابیاتو په فهرست کښې د کتابونو او ماخذونو د نا مکملو کوائفو ده- د کتاب د ۵۸ نه تر ۷۲ مخه پورې چې کوم کتابیات ورکړے شوي دي، په هغو کښې د ډېرو کمو کتابونو کوائف مکمل دي او اکثر نیمګړي دي- د کتاب په کوائفو کښې د کتاب او مصنف / مؤلف د نومونو په پرته د اشاعت مقام، د اشاعت اداره او د چاپ کال هم ښودل لازم وي-

اوس چې مونږ په دغه حواله د تاریخ مرصع کتابیات مطالعه کوؤ، نو یواځې د کتاب یا د کتاب او مصنف نوم ورکړے شوي دي او د نورو کوائفو اندراج په کښې نه لیدل کېږي- په دې حواله د تاریخ مرصع د کتابیاتو نه څو نمونې ملاحظه کړئ:

- سیرة ابن هشام انګریزي ترجمه له اے- ګلرم (۲۳ مخ)
- منتخب اللغات عربي فارسي د عبدالرشید الحسیني صاحب (۲۳ مخ)
- د یوان د خوشحال خان خټک (۲۴ مخ)
- دیوان د حضرت عبدالرحمان مومند بابا (۲۴ مخ)

- دیوان د عبدالحمید مومند (۲۴ مخ)
- منتخب التواریخ د ملا عبدالقادر بد ایوني (۲۵ مخ)
- تاریخ فرشته د ملا محمد قاسم هند و شاه فرشته (۲۲ مخ)
- منتخب اللباب (درې جلده) محمد هاشم خافي خان (۲۲ مخ)
- تاریخ مفصل ایران د دکتر عبدالله رازی (۲۷ مخ)
- صدیق اکبر له مولانا سعید احمد خان صاحب ایم اے اکبر ابادي (۲۹ مخ)
- عورت اور اسلامی تعلیم له ملک رام (۲۹ مخ)
- رود کوثر له جناب شیخ محمد اکرام صاحب (۲۹ مخ)
- تاریخ جهلم له مرزا محمد عظیم بیگ (۲۹ مخ)
- "دي کیلیفیټ" (خلافت) له سرولیئم میؤر (۷۰ مخ)
- شیر شاه سوری له نواب سر ذوالفقار علی خان (۷۱ مخ)
- "دي پټهانز" (پښتانهٔ) له سر اولف کیرو (۷۲ مخ)
- احمد شاه درانی له ګنډه سنګهـ ایم اے- پی ایچ ډی (۷۲ مخ)
- "ایران" له آرګرشمین (۷۲ مخ) (۴)

په دې لړ کښې باید دا هم ووئیلے شی، چې د کتابیاتو په فهرست کښې چې د کومو ۴۱ انګریزي کتابونو کوائف په پښتو کښې ورکړے شوي دي، ښهٔ به دا وه چې هم په انګریزۍ کښې ورکړے شوے وے-

د تاریخِ مرصع دوېم چاپ ډېر ګډوډ دے او خورا ډېرې بې احتیاطۍ، کموتونه او تسامحات په کښې لیدے کېږي، چې په لاندې کرښو کښې پرې یو ځغلند نظر اچولے شي:

لکه څه رنګه چې مونږ خبریوچې د تاریخ مرصع لومړے ایډیشن د مدون د نګرانۍ لاندې د چاپ د مرحلو نه تېر شوے دے، ځکه نو ټول مندرجات په کښې په ترتیب او د مدون د منشا مطابق دي، خو دوېم چاپ چې د مدون د وفات نه ډېر وروستو په ۲۰۰۶ ء کښې شوے دے او ټول مندرجات ئې د نوي سره کمپوز شوي دي، متني ګډوډۍ لري او د مدون د منشا مطابق نهٔ دے- په دې دوېم چاپي متن کښې د اول چاپي متن ډېر مندرجات حذف شوې دي- دغسې د حاشیو عبارتونه متن ته وړلے شوي او دغو کښې ځینې هلته په قوسینو کښې ښودلے شوي او ځینې خو بیخي حذف کړے شوي دي، خوزیاته د تاسف خبره داده چې متن ته وړلې شوې ډېرې حاشیې د متعلقه متن په ځاے غیر متعلقه متن ته لګولې شوي دي- چې ځاے په

ځاے تسامحات په کښې هم واقع شوي دي - د درج شوي صورت حال په تناظر کښې دا لاندې ورکړې شوي مثالونه ښۀ په غور ملاحظه کړئ:

**د حذف مثالونه:**

وړومبے مثال:

"انجیل مقدس، د نوې عهد نامې اردو ترجمه، برټش اینډ فارن بائیبل سوسائټي ۱۹۲۲ ء"(۵)

"تاریخِ شیر شاهی د عباس سروانی، انګریزي ترجمه او حواشي له پروفیسر ډاکټر امام الدین صاحب" (۶)

برني درج شوي کتابیات د وړومبي چاپ په ۲۲ او ۲۵ مخونو راغلي دي- اولنې کتاب د "بائیبل او تالمود متعلق" فهرست کښې په ۴ نمبر او دوېم هم د فارسي کتابونو په فهرست کښې په ۴ نمبر درج دے، خوپه دوېم چاپ کښې دغه دواړه اندراجونه حذف کړے شوي دي- په دې حواله د مذکوره چاپ ۲۰ او ۵۷ مخونه ملاحظه کړئ -

دوېم مثال:

الف-"ا ن ح: وتوغ و علم ونقاره مرحمت فرمود" ډورن ( د دوېمے حصے ابتدائیه صفحه ۷ "۱۵( چورئ: اعلم او نغاره "الخ ښائي چه د ډورن د وړاندے نسخے متن غوره وګنړل شي توغ اوعلم هم یو شے دے چه مونږ ورته په پښتو کښے طبعات جنډه او هم وایو- چورئ د مچانو شړلو .................."

(ب) ۲-" حصائر (د حصار جمع) یعني کوټونه ګرهئ، قلا ګانے ډورن "محلونه" ګوندے د هغۀ په نسخه کښے قصوروي ۳- ډورن "هره جمعه" (۴۰) د ډورن مطابق ن ح: یو پاؤتیل رسیدل ۵- فارسي: مولا نا احمد مدرس راکه اعلم العلما بود به جهت استفاده و درس طلبه علم نګاه، د اشته بودند که هر روز جمعے از طالبان می رسید ند سبق خواند و مستفید بوحند ویومیه ازسکار ملک بستان یافتنه" ډورن (د دوېمے حصے ابتدائیه ص۷۱) د دغه ژباړه داسے کوي: مولانا احمد د عالمانو معیار- چه د کسب معاش او د طالبانو د تعلیم په غرض له هغو طالبانو ز دۀ کړه بهٔے ترے کوله یو میه معاوضه اخستله- د ملک بستان له همیا نئ به ئے دروځے تنخواه حاصلوله۔" (۷)

پاسني درج شوي عبارتونه د ضميمه ۲ د مختلفو حاشيو دي چې د تاريخِ مرصع په وړومبي چاپ کښې حاشيه نمبر ۱ په **۱۳۵۱** مخ او حاشيه نمبر ۲، ۳، ۴ او **۵** په **۱۳۵۲** مخ پرله پسې مندرج دي- دغه ټولې حاشيې دوېم چاپ کښې متعلقه متن سره نه دي راغلې (نه په حاشيو کښې اونه د متن دننه په قوسينو کښې) او حذف کړے شوي دي- د تصديق دپاره د دوېم چاپي متن د **۱۲۵۱**، **۱۲۵۲** او **۱۲۵۳** مخونو متعلقه برخې ؤګورئ-

درېم مثال: دغسې يو بله حاشيه چې هم په دغه ضميمه ۲ کښې د اول چاپي متن په **۱۳۵۳** مخ مندرج ده او عبارت ئې داسې دے: "که بي بي صورت صاحبے ته هم "په رابعه زمان خود" وئيلو اکتفا شوې وے، نو ښه به وه " (۸) د تاريخ مرصع په دوېم چاپي متن کښې نه ده راغلې، ؤګورئ د دوېم چاپ د **۱۲۵۳** متعلقه برخه (يولسمه کرښه)-

ثلورم مثال: دتاريخِ مرصع په مقدمه کښې يو عبارت داسې دے چې: "د کتاب (تاريخ مرصع) په هغے برخه چه د خواجه نعمت الله هروی د فارسئ تاليف ترجمه ده، له ما آګاهو دوؤ ډېرو سترو او نامتو عالمانو اعني د خارکوف يونيورسټئ پروفيسر برنارډ ډورن په انګريزی کښے (هم په دغے ژبے کښے د ژباړلونه پس) او د ډهاکے يونيورسټئ پروفيسر ډاکټر سيد امام الدين ساپی صاحب هم نوټونه او حواشی ليکلی دی- زمونږ ټول کتاب په **۲۲۴** چاپو مخونو ختم شوے دے او د خواجه نعمت الله د تاليف ترجمه په لاندينو مخونو مشتمله ده:

| د قلمی نسخو | د چاپي نسخې |
|---|---|
| (۱) ا تر ۱۲۸ | ۱ تر ۱۹۸ |
| (۲) ۴۲۲ تر ۴۳۳ + ۱۲۵۹ تر ۱۳۰۴ | **۵۱۴** تر **۵۲۹** |
| (۳) ۴۴۹ تر ۴۶۲ | ۲۰۲ تر ۲۲۴ (۹) |

لوړ درج شوے عبارت د وړومبي چاپ متن د مقدمې څخه اخستے شوے دے، چې په حاشيو کښې ورته دغه لاندې درج شوي عبارتونه ليکلي شوي دي:

۱ -"دغه مخونه د "دي پنجاب پبلک لائبريری لاهور "د نسخے دي، چه لويه جهازي تقطيع ئې ده "

۲- "دغه مخونه د پادري هيوز د نسخے دي، چه مقابلةً ئے ډېره وړه تقطيع ده، په دغوصفحو کښے د صفحه **۱۳۰۵** تر صفحه **۱۴۳۸** مواد دا فضل خان تاليف دے "

اوس هر کله چې د مقدمې لوړ مندرج عبارت د دوېم چاپي متن په **۴۸** مخ راغلے دے نو لومړۍ حاشيه په متن کښې د قوسينو د ننه يواځې د پاسني درج نمبر (ا تر ۱۲۸) د وړاندې لګولې شوې ده، خو دا عبارت "چې يو لويه جهازي تقطيع ئې ده" ترې حذف کړے دے او

سیریل نمبر ۲ او ۳ بیخي نظر انداز کړے شوي دي- دغسې دوېمه حاشیه چې هم متن ته اوړلے شوې ده، د مېنځ دا عبارت ''چې مقابلةً ئې ډېره وړه تقطیع ده'' ترې حذف کړے شوے دے-

په دې لړ کښې باید د یوې بلې خبرې هم نوټس واخستے شي او هغه دا چې په مذکوره اقتباس کښې د چاپي نسخې ښودلې شوې مخونه ( اتر ۱۹۸، ۵۱۴ تر ۵۲۹، ۲۰۲ تر ۲۲۴ ) اوس په دې دوېم چاپي متن کښې غیر متعلق(Irrelevant) ځکه دي، چې د سر دوباره کمپوزنګ له سوبه د کتاب صفحه نمبرې بدلې شوي دي او ترتیب ئې اوس داسې جوړېږي:

۱- د ۷۰ مخ نه تر ۲۵۴ مخه پورې

۲- د ۵۴۵ مخ نه تر ۵۵۸ مخه پورې

۳- د ۲۲۵ مخ نه تر ۲۴۲ مخه پورې

پرته له دغو ګډوډو د مذکوره اقتباس د دې اندراج ''۵ تر ۵۱۹ په ځاے، په دوېم چاپ کښې ۵۱۴ تر ۱۹۸ ''لیکلے شوے دے، چې تسامح دے-

د cross referencing په حواله دغه ستونزه په هغه ځاے کښې هم راپېدا شوې ده، چرته چې مدون په کتابیاتو کښې د تاریخ مرصع د خطي نسخو تعارف وړاندې کړے دے او د شیدو د محترم عبدالسلام خان خټک او انډیا افس لائبریرۍ د قلمی نسخو په تعارف کښې ئې د ''چاپ کتاب'' په حواله د تاریخ مرصع د متن ځینو صفحو ته د رجوع کولو تاکید کړے دے:

> "د ښاغلی عبد السلام خان خټک د شیدو (ضلع پېښور) قلمی نسخه چه په ۱۳۲۱ هـ کښے لکه چه له لاندینو عبارتونو برېښی محفوظ نوم ئے کاتب لیکلے وۀ:
>
> بدست عبودیت کیش محفوظ د پاره ساتنے د زړۀ د میا صاحب مصباح الدین نقل شوو، او د کاتب په مېنځ کښے دا لیکونه هم شته: کاتب الحروف، سبحان الله بمطالعه محمد یوسف زیارت کاکا صاحب مولوی عبدالدیان مقابله شدالراقم محفوظ") او " عبدالحلیم مقابله شد" نسخه نیمګړې ده- له شروع تر هغه ځایه رسی چه شهباز خان له ځینیو خټکو د خپل پلار د مرګ بدل اخلی او بیائے بخښي- وګورئ د خپل کتاب صفحه ۲۲۸ (د قلمی نسخے) او ۲۲۷ (د چاپ کتاب)-
>
> د'' انډیا فس لائبریری لنډن ''د قلمی نسخے نقل (دوه جلده)

نیمگړې ده- د خوشحال بابا د قرانونو د ذکر (وگورئ د خپل کتاب ص۲۳۲ (د قلمی نسخے) او صفحه ۲۷۲ (د چاپ کتاب) نه شروع کېږي او د هغهٔ په وفات د اشرف خان هجری په لیکلے مرثیے ختمېږی- ( وگورئ د خپل کتاب ۴۲۰ تر ۴۲۲ (د قلمی نسخے) او ص۵۱۱ تر ۵۱۳ (د چاپ کتاب))- سوات نامه نهٔ لري او د کتاب هغه برخه چه پکښے مؤلف خپل ځنے حالات بیانوی- اگر که ټول ضروری واقعات لري خو د اصل عبارت خلاصه ده-" (۱۰)

دغه دواړه پرله پسې اقتباسونه چې د دوېم چاپي متن څخه رانقل شوي دي او د "چاپ کتاب" د ذکر شوؤ صفحو په حواله ورته هېڅ څه اضافي نوټ نه دے لیکلے شوے، ځکه نو په موجوده صورت کښې د دوېم چاپ متن د صفحو نمبرې اوس بدلې دي او اوس په دوېم چاپ کښې ذ شهباز خان مذکوره بحث د ۲۲۷ مخ په ځاے په ۳۱۹ مخ، د خوشحال بابا د قرانونو ذکر د ۲۷۲ په ځاے په ۳۲۳ مخ او د اشرف خان هجري لیکلې مرثیې دپاره د ۵۱۱ نه تر ۵۱۳ مخونو په ځاے ۵۴۲ نه تر ۵۴۴ مخونو پورې، ملاحظه کېدے شي-

هر کله چې د تاریخ مرصع په دوېم چاپي متن کښې د حاشیو عبارتونه متن ته وړلے شوي دي، نو بله ربړه ئې دا راپېښه کړې ده، چې په ډېرو مواردو کښې د یوې حاشیې یوه برخه متعلقه او بله غیر متعلقه متن سره یو ځاے کړې شوې ده او داسې هم شوي دي، چې د یوې حاشیې څهٔ برخه د بلې حاشیې برخه گڼلې شوې ده او هم دهغې سره په غیر متعلقه ځاے لگولې شوې ده- د مثال د پاره به د دې لاندې دوؤ حاشیو عبارتونه ورکول کافي وي:

• وگورئ د تاریخ شیر شاهي په اردو ترجمه د ډاکټر سید معین الحق صاحب مقدمه ص ۷ د وړومبي سړک په حقله د ستائیلی ډاکټر صاحب بیان غالباً چه په تاریخ فرشته مبني دے- فرشته وائی (ازسنار گانو تا آب سند که به آب نیلاب اشتهار دارد ویکهزار و پانصد کروه است" الخ (جلدا، ص ۲۲۸) خواجه نعمت الله هم دغه بیان لري (ن ز او ن ح جلد ۱ صفحه ۳۳۳ و۳۳۴) سُنار گاؤ له ډهاکے جنوباً شرقاً د پنځوسو میلو په فاصله وهٔ- اوس وران دے- الفنسټن د اکبر باچا د یوهٔ هم عصر مؤرخ د وېنا په بناوائي چه له بنگاله ئے تر مغربي رهتاسه انډس (دریائے سندھ) ته نزدے جوړ کړے وهٔ- (تاریخ هند صفحه ۴۵۸) دغه مؤرخ ظاهره ده چه بدایوني دے- وگورئ د هغهٔ

د کتاب منتخب التواریخ انګریزی ترجمه جلد اول صفحه ۴۷۲ و ۴۷۳ او اردو ترجمه ص ۲۵۰ په اردو ترجمه کښے د "تر مغربي رهتاسه" په ځاے "رهتک" لیکلی دی چه غلط دی- د مغربی رهتاس نه مراد ضلع جهلم رهتاس دے، په عکس د بها رد رهتاس چه ډېر لرے ترے جنوب مشرق کښے واقع دے- دریائے سند ته چه مونږ ورته عام طور سره اباسین وایو، د مغلوالے په زمانه کښے عام طور سره آب نیلاب هم وئیلي شوي دي- رهتاس د جهلم سیند ته نزدے له آب سند نه په کافی ډېره فاصله واقع دے- بدایونی دوېم سړک له آګرے تر مالوے یا دوی-

- ؤګورئ اردو ترجمه ص ۲۵۰ انګریزي ترجمه جلد ۱ صفحه ۴۷۳ په انګریزي ترجمه کښے د بوډئ په ځاے بو ډا سړے دے- فرشته هم دغه مضمون لري- (جلد ۱صفحه ۲۲۸) وائي چه "اګر زالے باسبدے پر ازطلا در صحراشبها خواب کر دے حاجت پاسبان اصلا نبودے "یعنی که یوهٔ بوډایا یوے بوډئ (زالے) د سرو زرو نه ډک شکور سره په بید یا کښے شپے تیرولے نو ورلره د محافظ هېڅ ضرورت نهٔ وهٔ- (۱۱)

برني دواړه مندرج اقتباسونه د شیر شاه سوري د" نوټ "د دوؤ حاشیائي عبارتونو دي، چې د تاریخ مرصع د اول چاپ په ۱۰۲۹ او ۱۰۷۰ مخونو راغلي دي - هر کله چې دغه حاشیې د تاریخ مرصع د دوېم چاپ متن ته ورلےشوي دي، نو وړومبۍ حاشیه په نیمګړې صورت (اے وګورئ د تاریخي شیر شاه سوري په اردو ترجمه ...... خواجه نعمت الله هم دغه بیان لري (ن ز او ن ح) کښې متعلقه متن سره لګولې شوې ده او باقې پاتې برخه ( جلد ا ص ۳۳۳ و ۳۳۴، سناؤ ګاؤ له ډهاکے .........بدایوني دوېم سړک له اګرے تر مالوے یا دوي ئې د ورکړې شوي دوېمې حاشیې (اے وګورئ اردو ترجمه ۲۵۰ انګریزي ترجمه ..........نو ورله د محافظ هېڅ ضرورت نهٔ وهٔ) سره یو ځاے کړې شوې ده او هم د دغې دوېمې حاشیې متعلقه عبارت ته مخامخ د یو حاشیائي عبارت په شکل کښې لګولې شوې ده، سبحان الله، وګورئ د دوېم چاپ ۱۰۲۸ او ۱۰۲۹ مخونه-

د تاریخ مرصع دا زېرِ بحث چاپي متن نورې هم ډېرې ربړې لري- د مثال په توګه د وړومبي چاپ په ۸۵۴ مخ، دا تهروید د اقتباسونو نه پس چې کله مدون د متعلقه مؤلف د تحقیق او تقریر خلاصه بیانوي او وضاحتي خبرې پرې کوي، نو په دغو کښې مدون هم د

اتهروید د متن څۀ نمونه په اصل رسم الخط هم ورکړې ده، چې اوس په زېرِ بحث چاپي متن کښې نۀ لیدے کېږي- وګورئ د دوېم چاپ ۸۴۴ مخ- دغسې د دوېم چاپ په ۳۷۲ مخ چې د قلمی نسخې د ۲۸۱ مخ کوم مندرجات راغلي دي، هغو ته د قلمی نسخې د مذکوره مخ حواله د لومړي چاپ مطابق نۀ ده درج کړے شوې-

اوس چې د تاريخِ مرصع د چاپي متونو په باب لوړ بحث پا ے ته ورسېدو، نو په لنډه تري دا نتيجې راوځي: چې د تاريخ مرصع وړومبے چاپ متن پرته د کتابياتو د کوائفو د نيمګړتياؤ او ډېرو نورو لړو کموتونو د تدوين او تحقيق له روشونو سره سم تدوين شوے دے، بلکې د پښتو د تدوين شوؤ معياري متونو په لومړي صف کښې ځا ے لري، خو د تاريخ مرصع دوېم چاپ متن د پرېمانه ګډوډو، کموتونو او بې احتياطو ښکار دے، په کومو کښې چې د ډېرو لړو ګډوډو، کموتونو او بې احتياطو نشان دهي په لوړ بحث کښې وشوه- د تاريخ مرصع په مذکوره چاپ کښې دغو شيانو تر ډېره حده ددغه تدوين شوي متن اصل څهره مسخ کړې ده- څۀ به ښۀ وه که دغه متن د دوېم ځل له پاره يا خو په عکسي ډول چاپ شوے وے او يا ئې کمپوزنګ او پروف ريډنګ ډېر په احتياط شوے وے- او نګراني ئې د پښتو ژبې يو پوهه مدون ته سپارلې شوې وې- په دغه تناظر کښې اوس د تاريخ مرصع يو نوي چاپ ته، چې د اصل مطابق وي، اړتيا ليدے شي، پکار ده، چې دغه ذمه واري پښتو اکېډمي، پېښور په خپلو اوږو واخلي-

# حوالې


(۱) حنیف نقوی، منشائے مصنف سے انحراف: محرکات اور اسباب (مشمولہ) معیار، شعبہ اردو، بین الاقوامی یونیورسٹی، اسلام آباد، جلد: 1، شمارہ: 1، جنوری-جون 2009ء، ص ص 9-10

(۲) کامل، دوست محمد مومند ، ۱۶۳۰ء، د چاپ زے، پېښور، ۱۹۸۵ء

(۳) ربښتین، صدیق الله، پوهاند ، ادبي او تاریخي سمونې، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، **۱۹۹۲**، **۲۹** مخ

(۴) کامل، دوست محمد مومند ، (مدون) تاریخ مرصع، یونیورستي بک ایجنسي، ۱۹۹۴ء، ۵۸ نه تر ۷۲ مخه

(۵) کامل، دوست محمد مومند ، (مدون) تاریخ مرصع، ۶۲ مخ

(۶) هم دغه، ۶۵ مخ

(۷) هم دغه، ۱۳۵۱ او ۱۳۵۲ مخونه

(۸) هم دغه، ۱۳۵۲ مخ

(۹) هم دغه، **۵۱-۵۲** مخونه

(۱۰) کامل، دوست محمد خان مومند ، (مدون) تاریخِ مرصع، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، دوېم چاپ، ۲۰۰۲ء، **۵۴-۵۵** مخونه

(۱۱) کامل، دوست محمد خان مومند ، (مدون) تاریخِ مرصع (اول چاپ)، **۱۰۲۹-۱۰۷۰** مخونه